UNAMA
SRSG Briefing
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

# د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړې استازې، آغلې دیبورا لاینز وینا

*[له وړاندې شوې وینا سره سر ورکړئ]*

**نیو یارک، ۱۷ ډسمبر ۲۰۲۰**

* * *

منننه ښاغلي رئیس،

سهار مو پخیر، ماښام مو پخیر د شورا غړو،

زه شورا ته په داسې حال کې وینا کوم چې د افغانانو لپاره د یوه خورا مهم کال پای ته رسولو په درشل کې یو.

زما د وروستي بریفینګ راهیسې، د افغانستان اسلامي جمهوریت او د طالبانو په خپلو د سولې خبرو کې کم او سوکه خو واقعي پرمختګ کړی. د ډسمبر پر ۲ نېټه، دواړو خواوو خبر ورکړ چې هغوي د مذاکراتو لپاره پر "قواعدو او طرز العملونه" توافق کړی. دواړو خواوو د اجنډا په اړه د مباحثو لپاره کاري کمیټه تشکیل کړه او د مباحثې لپاره یې یو بل ته د موضوعاتو ابتدایي لست وړاندې کړی. دغه پرمختګونه او تحولات ابتدایي خو د دې یوه مثبته نښه ده چې دواړه خواوې د اړتیا په صورت کې جوړجاړی غواړي او ورتیا یې لري.

د دې اونۍ په لومړیو کې، تر ۹۳ ورځو بې وقفه خبرو اترو وروسته، دواړو خواوو توافق وکړ چې د شل ورځو رخصت وکړي. هیله لرو چې دغه کار به دواړو خواوو ته د بیا ګروپ کیدو، د داخلي او بهرنیو سلا مشورو زمینه برابره کړي او له نوې شوې ژمنتیا سره بیرته مذاکرات پیل کړي. دواړو خواوو په ښتیا ژمنه وکړه چې تر دغې درې اونیزې دمې وروسته د جنوري پر ۵ نېټه د مذاکراتو میز ته بیرته راستانه شي.

زموږ د بشري مرستو، پراختیايي او بشري حقونو د ټیمونو له غړو سره یو ځای، ما دې وروستیو کې دوه ځلې له دوحې څخه لیدنه وکړه څو له دواړو افغان خواوو او دغه راز له ډیپلوماتیکې ټولنې سره وګورم. د دې یادونه اړینه بولم چې دوحې ته زما په هر سفر کې، ما له ښځینه مذاکره چیانو سره لیدلي څو په دې اړه د هغوي نظریې ترلاسه کړم چې له هغوي سره څرنګه مرسته کولی شو. یوناما هم په دوحه کې یو ټیم ساتلی چې له دواړو خواوو او د نړیوالې ټولنې له غړو سره کار کوي څو له پروسې سره مرسته وکړي.

غواړم د خبرو اترو د کوربتوب لپاره د قطر له دولت، دغه راز له متحده ایالاتو او د کوربه هیواد د ملاتړ د ګروپ د غړو – جرمني، اندونیزیا، ناروې او ازبکستان – څخه د هغوي له ډیپلوماتیکو هڅو لپاره منننه وکړم. زه د نړیوالې ټولنې له خوا په موجوده او جوړیدونکو مختلفو فارمیټونو کې د لا زیات رغنده تعامل او ګډون هیله لرم څو د سولې پروسې لپاره ملاتړ لا زیات او پراخ شي.

ښاغلي رئیس،

د هر ډول پایښت لرونکې سولې مالکیت باید د افغانستان د خورا متنوع ټولنې وي. دغه کار یوازې هغه مهال شونی دی که چیرې پروسه له پیل څخه د ټولو قشرونو لکه ښځو، ځوانانو، لږکیو، د جګړې د قربانیانو او دیني مشرانو په مهم ګډون سره ټول شموله وي. په دې وروستیو کې د مصالحې د شورا تشکیل به د اسلامي جمهوریت لپاره د دې زمینه برابره کړي چې د خپل د مذاکراتو د دریځونو لپاره یو پراخ بنسټ رامنځ ته کړي. طالبان هم باید له افغان ټولنو او خلکو سره خپل سلا مشورې پراخې او زیاتې کړي.

د دواړه مذاکره کوونکو خواوو لپاره یو کلیدي قشر باید د افغانستان ځوانان وي. د افغان وګړو دوه پر درې برخه یې تر ۲۵ کلنۍ کم عمر لري. دا همدارنګه د افغانستان په تاریخ کې تر ټولو زیات ځوان لوستي کهول ګڼل کیږي. ځوان افغانان د خپل هیواد د راتلونکې په اړه ښکاره لید لوري لري او موږ باید د هغوي د غږ د پیاوړي کولو لپاره هر څه ترسره کړو. همدارنګه ډیره خوښه یم چې د افغانستان د ځوانانو استازې ښکلا ځدران له موږ سره یو ځای کیږي او زه یو ځل بیا د هغې د افکارو د اوریدو په تمه یم.

زه د دې ویلو ویاړ لرم چې پر ځوانانو متمرکز زموږ د سولې ځایي نوښتونه کوم چې په ټول افغانستان کې ترسره شوي، یوناما د افغانستان ځوانانو لپاره یو پلاټفورم برابر کړي څو د سولې په اړه خپل نظر شریک کړي. په دې وروستیو کې، په فاریاب ولایت کې ځوانو ګډونوالو له غښتلو سپارښتنو سره خپله اعلامیه خپره کړه چې په کې د سملاسي اوربند غوښتنه شوې؛ او د افغانستان تر اساسي قانون لاندې د اسلام رول په ګوته شوی؛ پایښت لرونکې پراختیایي مهمې موخې په ګوته شوې؛ او د انتقالي عدالت پر اړتیا یې ټینګار شوی. دا د افغانستان ځوان خلک دي. د دوي غږ باید واوریدل شي.

ښاغلی رئیس،

څرنګه چې موږ ټول پوهیږو، په سیمه، مرکزي او سهیلي اسیا کې همکاري د یوې پایښت لرونکې سولې لپاره اړینه ده. زیاته شوې سوداګري او اتصال به د سولې او سیمه ییزې ښیرازۍ لپاره یو بنسټ رامنځ ته کړي. نو له همدې امله د سیمه ییزو هڅو ملاتړ مهم دی او زه نن غواړم په ځانګړې ډول له نشه یې توکو او نړیوالو تنظیم شویو جرمونو – د سیمې د هیوادونو لپاره دوه جدي ګواښونه – سره د مبارزې په اړه د سیمه ییزو هڅو یادونه وکړم، او غواړم په ډاګه کړم چې دغه موضوعات د هغې ستړې مباحثې برخه وې چې ما د ملګرو ملتونو له نشه یي توکو او جرمونو سره د مبارزې د دفتر د رهبرۍ په سیمه ییزې ناسته کې ګډون کړی و، کومه چې له مرکزي اسیا، افغانستان، ایران او پاکستان څخه جوړه شوې وه. دغو موضوعاتو او پر افغانستان او د سیمو پر خلکو ویجاړوونکې اغیز ته رسیدګې، په افغانستان او سیمه کې د سولې او ټیکاو د ودې لپاره اړین دي.

له ایران او پاکستان څخه زما د وروستیو لیدنو پر مهال، او په هغو مراسمو زما ګډون چې د ترکمنستان او د ملګرو ملتونو د مخه نیوونکې پالیسي سیمه ییز مرکز له خوا یې کوربتوب کیده، خوښه یم ووایم چې ما د سیمه ییزو فعالینو ترمنځ په افغانستان کې په واقعیت د سولې د بدلولو لپاره یوه زیاتیدونکې ژمنتیا ملاحظه کړه، دغه راز دا مهم اعتراف چې سیمه ییز ټیکاو په واقعیت کې په افغانستان کې یوې پایښت لرونکې سولې ته اړتیا لري.

ښاغلی رئیس،

له بده مرغه، سخت تاوتریخوالی د سولې لپاره یو جدي خنډ او د سیمې لپاره یو ګواښ ګڼل کیږي. زه په دې اعتراف کوم چې موږ لا اوس هم د کال ارقام توحیدوو، خو غواړم د تاوتریخوالي د اغیز په اړه د یو شمیر موقتو احصائیو یادونه وکړم.

په اکتوبر او نومبر میاشتو کې، د لاس جوړ چاودیدونکو آلو، ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د تیر کال د ورته مودې په پرتله له ۶۰ سلنې زیات نور ملکي تلفات اړولي. د ۲۰۲۰ کال په دریمه ربع کې، د ماشومانو تلفات د تیرو دریو میاشتو په اوږدو کې ۲۵ سلنه لوړ شوي، په داسې حال کې چې په ورته موده کې پر ښوونځیو بریدونه څلور برابره زیات شوي. د ۲۰۲۰ کال په لومړیو ۱۱ میاشتو کې، د دولت ضد عناصرو له خوا هدفي وژنې په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله نږدې ۴۰ سلنه لوړې شوي. نو دا بیا کومه د حیرانتیا خبره نه ده چې د ۲۰۲۰ کال لپاره د سولې نړیوال انډکس د دویم کال لپاره سر په سره په نړۍ کې تر ټولو د نا امنه هیواد په څیر درجه بندي کړی.

دغه ډول درجه بندي د تاوتریخوالي رواني اغیز په ډاګه کوي: څرنګه چې په دې وروستیو کې یوه افغان چارواکي ما ته وویل، "د تاوتریخوالي او نا امنۍ احساس او درک اوس د هر بل وخت په پرتله لوړ دی." اجازه راکړئ دا یو ځل بیا ووایم: د تاوتریخوالي او نا امنۍ احساس او درک اوس د هر بل وخت په پرتله لوړ دی. یوازې د نومبر د پیل راهیسې په کابل کې دوو جلا جلا راکیټي بریدونو؛ پر کابل پوهنتون برید، په هلمند او کندهار کې زیات شوي تاوتریخوالی او په بامیانو کې ظالمانه بمي چاودنو او داسې نورو بې شمیرو پېښو د خلکو ماتیدونکی باور له اندېښنو سره مخ کړي او د نویو تروریستي ګواښونو د راڅرګندیدو په اړه یې د خلکو ویره زیاته کړې. زه له ټولو هیوادونو غوښتنه کوم چې د جګړې پر ټولو ښکیلو خواوو خپل فشار جاري وساتي څو په تاوتریخوالي کې پایښت لرونکې کموالی رامنځ ته کړي، او زه تمه لرم چې دا به د مذاکراتو د بیرته پیلیدو تر ټولو لوړ لومړیتوب وي.

د نړیوالو ځواکونو وتلو له راڅرګندیدونکې واقعیت سره مل روان امنیتي وضعیت په ښکاره د افغان وګړو اندېښنې لا پسې زیاتې کړي. په راتلونکو میاشتو کې، زه وړاندوینه کوم چې دغه ستر امنیتي لیږد به د افغان چارواکو، د سیمې د هیوادونو او په لویه کچه د نړیوالې ټولنې ترمنځ د ډیالوګ مرکزي موضوع وګرځي.

ښاغلي رئیس له دې سره سره، په جنیوا کې د افغانستان د ۲۰۲۰ په کنفرانس کې نړیوالې ټولنې په یو ځای له افغانستان سره د مالي ملاتړ خپلې ژمنې تازه کړې. دغه تر توقعاتو ها خوا و، او زه خپلو ګډو کوربانو افغان او فینلینډ دولتونو د دغې بریا مبارکي وایم. دغه سخاوتمندانه ژمنې په نني مالي چاپیریال کې فوق العاده دی او دا به افغانستان د دې وړ کړي چې د خپلو عمده پراختیایي لومړیتوبونو تعقیبول جاري وساتي او خپلو خلکو ته حیاتي خدمتونه وړاندې کړي.

د دې اهمیت یوازې د پیسو له اړخه نه دی، بلکې اهمیت یې په هغه خورا مهم ډیالوګ کې نغښتي دي چې تر سره شو. یوناما د لوړې کچې درې غونډې ترسره کړې: یوه د سیمه ییزې همکارۍ؛ بله د سولې-امنیت-پرمختیا-بشري مرستو- دا د روبیک یو پیچلي مکعب دی چې موږ به یې د مخ ته تګ پر مهال په راتلونکي کال له ننګونو سره د مخ کیدو سره درک کړو؛ او بل د لوړې کچې مراسم چې د افغان خصوصي سکتور له خوا په کې ګډون شوی و څو د هغو لارو چارو په اړه مباحثې ترسره کړي چې د سولې په دغه نوی چاپیریال کې هغوي څرنګه د ځان بساینې په لور حرکت وکړي. دغو مراسمو جنیوا ته مختلف غږونه راوړل، چې د حکومتولۍ او اقتصادي ودې ننګونو ته رسیدګي کوي.

خو پر هر څه سربیره، دغه کنفرانس د افغانستان خلکو ته یو واضح سګنال ولیږدوه: نړیواله ټولنه لا اوس هم ستاسو تر څنګ ولاړه ده. له ۶۶ څخه د زیاتو هیوادونو له خوا د کنفرانس تصویب شوې شوې اعلامیې، زه یې داسې نقلولم

د "یو متحد، خپلواک، سوله من او ولسواک افغانستان" لپاره یو ځل بیا ملاتړ تایید کړ. یاده اعلامیه د ۶۶ هیوادونو له خوا لاسلیک شوه. او تر هغې درې ورځې وروسته، دغه پیغام د اسلامي همکاریو د سازمان د بهرنیو چارو د وزیرانو په شورا کې په نیجر کې منعکس شو، چیرې چې غړو دولتونو "له افغانستان سره د دوامداره مرستې، پایښت لرونکې پراختیا، بیا رغونې په ترلاسه کولو کې" د مرستې ژمنه وکړه. دوي دغه راز یو ځل بیا د اوربند غوښتنه وکړه.

د یادونې وړ ده چې ډونرانو دا څرګنده کړه چې د هغوی سخاوتمندانه مالي مرسته له شرایطو سره مله ده. له اوس څخه یو کال وروسته موږ ټول حکومت او ډونران د لوړ پوړ چارواکو په ناسته کې سره راغونډېږو څو د دغو ژمنو په وړاندې ترسره شوی پرمختګ و ارزو. د تمویل د اوسنیو اندازو دوامداره کول د سولې، حکومتولۍ، د قانون د واکمنۍ، په یقیني ډول له اداري فساد سره د مبارزې، بشري حقونو په تیره بیا د ښځو د حقونو په اړه محسوس اصلاحاتو ته اړتیا لري.

د ضایع کولو لپاره هیڅ وخت نشته او چارې به د پخوا په څېر نه وي. او همدارنګه موږ د اصلاحاتو د لومړیتوبونو د توضیح لپاره له افغان دولت او پراختیایي شریکانو سره کار پیل کړی. یو ځای موږ دا ډاډمنولی شو – او موږ به یې ډاډمن کړو – چې د ډونرانو مرستې په پام کې نیول شویو موخو لپاره کارول کېږي: چې عبارت دي له د پیاوړو او حساب ورکوونکو ادارو جوړول؛ افغان وګړو ته د خدمتونو رسول.

ښاغلی رئیس،

له بده مرغه، افغانستان په نړۍ کې د ژورنالستانو لپاره یو تر ټولو خطرناک هیواد ګڼل کیږي، او نن زه غواړم د دغې موضوع یادونه وکړم. د عاملینو لپاره له کمزوري احتساب سره یوازې په روان کال کې شپږو هغو یې خپل ژوند له لاسه ورکړی – شپږو ژورنالستانو – همدارنګه د بشري حقونو یولسو مدافعینو خپل ژوند له لاسه ورکړی او زیات شمیر نور یې ټپیان شوی یا لا اوس هم له ګواښ سره مخ دي.

دغه ډول بریدونه په هیڅ وجه د توجیه وړ نه دي. دغه بریدونه عامه خبرې اترې د انجماد له خطر سره مخ کوي، په داسې یوه شېبه کې چې ډیالوګ ته تر ټولو زیاته اړتیا وي. نو زه پر دولت غږ کوم چې د رسنیو د ساتنې لپاره موثر اقدامات ترسره کړي او د ژورنالستانو په وړاندې تاوتریخجن جرمونه وڅیړي او تر عدلي تعقیب لاندې ونیسي. طالبان هم باید پر ملکي اهدافو له برید کولو څخه ډډه وکړي. طالبان باید هغه مهم رول درک کړي چې رسنۍ او مدني ټولنه یې د نړیوالې ټولنې د یوه حیاتي غړي په څیر په معاصر افغانستان کې لوبوي.

ښاغلي رئیس،

د نورې نړۍ په څیر، افغانستان اوس د کوویډ-۱۹ له نوې څپې سره مخ کیدونکی دی. د دغې وبا اغیزې لا وار د مخه ویجاړوونکې وې، او موږ ژمې دویم پړاو ته د داخل کیدو په حالت کې یو کوم چې ښایي د پسرلي د لومړۍ څپې په پرتله زیات زیانمنونکې وي. لوږه او خوار ځواکي اوج ته رسیدلي، معیشتونه له منځه تللي، چې له امله یې ښځې او ماشومان په ځانګړي ډول اغیزمن شوي.

او له همدې امله د دولت او مدني ټولنې سره په همغږۍ کې، د ملګرو ملتونو کورنۍ په لویه کچه پراخه شوې څو ډاډ ډاډمن شي چې وبا ته د ځواب ویلو لپاره کار ترسره کیږي. یوازې روانه اونۍ، ولسمشر او ما دSWAT بیړنۍ ټیم پیل کړ څو هغه [غبر په سم ډول نه اوریدل کیدو]. په ورځنۍ ډول وڅارو. زه غړي دولتونه په سخاوتمندانه ډول د بشري

فعالیتونو تمویل ته هڅوم. موږ باید دا یقیني کړو چې په دغې وبا کې د افغانستان تر ټولو زیات زیانمنیدونکي خلک تر نورو لا زیات شا پرې نه ابښودل شي.

ښاغلي رئیس،

څرنګه چې موږ د کال پای ته رسیدو په درشل کې یو، موږ باید پر دې اعتراف وکړو چې ۲۰۲۰ کال د متحده ایالاتو-طالبانو له تړون، د متحده ایالاتو-افغان دولت له ګډې اعلامیې، له درې میاشتنیو بین الافغاني مذاکراتو، د نړیوالې ټولنې له نویو ژمنو او د سیمه ییزې همکارۍ له بیا راژوندیو شویو هڅو سره دغه هیواد ته یو څرګند بدلون راوړی. دغه ټول په کابل کې د یوه نوي حکومت تر سیورې لاندې رامنځ ته شوي.

په ټولو حسابونو، ښاغلي رئیس دا یو ستر کال ګڼل کیده.

خو تر ټولو ستر کال را روان هغه دی – د امنیتي چارو بشپړ لیږد، د سولې مذاکرات کوم چې باید پرمخ یوړل شي او پرمختګ وکړي، روغتیا او د کووید ټولنیزې-اقتصادي ننګونې، د نړیوالو ډونرانو روانې ژمنې او د لا زیاتې سیمه ییزې همکارۍ متوقعه پایلې. دا ټول له هر هغه څه سره چې سیاسي او ټولنیز بدلونونه ور څخه راولاړیږي. ښکاره ده چې افغانستان به په دغه نوي کال کې خپل مخ ته تګ جاري وساتي؛ خو په هماغې اندازه د دغې شورا ځانګړې ملاتړ ته اړتیا لري.

مننه او زه زموږ مباحثې ته سترګې په لار یم.

* * *

*یوناما ته د یوه سیاسي ماموریت په حیث د افغان دولت او د افغانستان د خلکو د ملاتړ په موخه ماموریت ورکړل شوی کوم چې د نورو مهمو خدمتونو تر څنګ "د ښه نیت هڅې" برابروي. د "ښه نیت هڅې" هغه ډیپلوماتیک اقدامونه دي چې ملګري ملتونه یې د خپلې خپلواکۍ، بې طرفۍ او تمامیت په پر بنسټ په عامه او خصوصي محافلو کې ترسره کوي، څو د نړیوالو شخړو د راپورته کیدو، تشدید کیدو یا پراخیدو مخه ونیسي. یوناما د سولې او پخلاینې د پروسې سره مرسته کوي، د بشري حقونو نظارت کوي او هغوی ته وده ورکوي، په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په شمول،ښه حکومتولۍ ترویجوي او سیمه ییزه همکاري هڅوي. ماموریت همدارنګه همغږې شوې پرمختیا ته وده ورکوي چې ملاتړ یې د نړیوالې ټولنې له خوا کیږي.*